تر ټولو غوره صدقه کومه ده؟

جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته تر ټولو غوره صدقه کول داسې را پیژني:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ: «أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ، تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى، وَلا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ، قُلْتَ: لِفُلانٍ كَذَا، وَلِفُلانٍ كَذَا، وَقَدْ كَانَ لِفُلانٍ». (بخاری:1419)

ژباړه : ابو هریره رضی الله عنه وايي : یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او پوښتنه یې وکړه: ای رسول الله ! کومه صدقه ډیر اجر او ثواب لري؟ ویې فرمایل : «هغه صدقه چې هغه مو د روغتیا او تندرستۍ په وخت کې او هغه وخت چې د مال د جمع کولو په کوښښ کې وئ او له فقر څخه ویره لرئ او د بډایتوب (مالداری) هیله ولرئ ، ورکړئ، نه دا چې منتظر پاتې شي تر څو د مرګ شیبې را ورسیږي نو بیا هغه وخت (صدقه ورکوئ) او وایي فلاني ته دومره ورکړه او فلاني ته هومره ورکړه ،حال دا چې هغه وخت د د ه مال خود په خود پر بل پورې اړه لري.

ګرانو مسلمانانو ورونو او خویندو!

د صدقې ورکولو اصلی وخت همدا اوس دی ځکه همدا اوس د صحت او تندرستۍ لرونکي او د فقر د نجات په مقصد د مال ګټلو په لټه کې یو.

یو فرضي صدقات دي لکه زکات چې د نصاب په څښتن باندې په کال کې یو ځل به د خپل مال څلویښتمه برخه په مستحقو کسانو ویشی.

پرته له زکات او صدقه فطر نور ثوابي صدقات دي چې ډیر اجر او برکت لري ، که څوک غواړي الله تعالی ده ته ډیر مال ورکړي نو هغه دې پر نورو بې وسه کسانو خرڅ کړي.

په دې اړه جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : عَن اَبِی هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّي الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ تَعَلی اَنفِق یَابنَ اٰدَمَ اُنفِق عَلیكَ.

دحضرت ابوهریره (رضی الله عنه) نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایی چه هربنده ته د الله تعالی دا پیغام دی چه ای د آدم زویه ! ته زما په ضرورتمندو بنده ګانو خپله ګټه خرڅ کوه – زه به یې له خپلی خزانی تاله درکړم (رواه بخاری او مسلم)

الله تعالی دې په مونږ کې د رحم او خواخوږی ولولې پیدا کړي، تر څو د را روانې رمضان میاشتې وړاندې د انفاق او صدقې احساس مو قوي شي او په دې میاشت کې هغو اړمنو کسانو سره پورته مرسته وکړو، چې د روژه ماتي او یا هم پیشمني لپاره څه نه لري، تر څو پرې خپله روژه ونیسي. راځئ له همدا اوسه د بېوزلو په لاسنیوي او د خیر د کارونو په پرمختګ کې خپل رول ولوبوو، تر څو هغه حق چې خواران او غریبان یې زمونږ او ستاسو په مال کې لري هغوی ته مخکې له دې چې بیا یې نه شو خرڅ کولی ور وسپارو.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمني، چهار راهی حاجي محمد داد، سرک ۴، دفتر مد جمعیت اصلاح. تیلفون:۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشار اصلاح افکار:موبایل:۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری ،کتاب فروش رسالت.۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر، ۸۸۷۰۳۰۵

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت نظرمنزل۲دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننګرهار: جلال آباد، نارنج باغ، عبدالحق مبنه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاق زی مارکیټ زیرزمینی

ښي لاس ته لومړی دوکان- اصلاح افکار ۰۷۸۷۰۹۰۶۳۰

کندهار: نوی ښار، د هرات سړک، د سړي جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي د تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ ـ ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار،حمزه مارکیټ تیلفون: ۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: جاده بانک خون، بالا تر از تالار قمر، گذر هشت بهشت، انجمن اخلاق و معرفت تیلیفون: ۰۴۰۲۳۵۵۹۰

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۹۶۹۴۲۴۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری،مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوګر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروش سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۰۴۴۹۸۱

لوګر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسن خیل،تیلفون:۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د ګردیز ښار، مرکزي چوک، د نمایندګی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزی طبی لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوی دفتر د اکتر محمد ګلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶/ ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیښور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۱۵۸۵۲۷۹۵

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش نشرات و فرهنگی

هفته نامه اصلاح اونیره

د اسلام د اصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

www.eslahonline.net

دلیکوال پلاوي تر نظر لاندې

دامتیاز خاوند:

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان

رئیس هیأت تحریر:

عبدالفتاح جواد

مدیر مسئول:

نقیب الله حمید 0774327438

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

سرمقاله

له ټول ټاکنو د ملت ټکونکې پروسه مه جوړوئ!

زمونږ په هېواد کې هرڅه کې افراط او تفریط یوه داسې ننګونه ګرځېدلې ده چې کېدای شي دا ناوړه چلند دیو نسل له پای سره، ختم شي.

په تېرو څه باندې دیارلسو کلونو کې چې غربیانو دلته د ډېموکراسۍ کومې ترانې غږولې او کومو څېرو چې ورته په ډېره مینه نڅاوې کولې او د پردیو په شتون کې یې ټولټاکنې د هېواد دسولې، آبادۍ او پرمختګ یواځنۍ نسخه ګڼله، په روانو ټولټاکنو کې یې په خپلو ټولو چیغو او شعارونه پښه کېښودله او ددې پرځای چې له دې ټولټاکنو د هېواد د آبادۍ، ملي یووالي او سولې لپاره ګټه واخلي، برعکس یې داسې فضاء رامنځ ته کړه چې ولس یې سره ټوټه ټوټه او لاهم د نا امنۍ پر لور بوته.

دا چې د انتخاباتو نتیجه څه وه پردې به خبره نه کوو، خو وړاندې له دې چې د لومړۍ پړاو ټاکنې تر سره شي، اکثره نوماندانو دخپلو شخصي ګټو او رایو لپاره دا هڅه پیله کړه چې ملت د ژبې، قوم، مذهب، او سېمې په نامه سره ووېشي او په دې کار کې ددې نوماندانو د کمپاینونو غړو ډېره بده لوبه ولوبوله.

په دې حساسو شرایطو کې چې هېواد لاهم د پردیو په خیراتو چلېږي او لاهم پردې دلته خپل حکمونه چلوي، او په دې هڅه کې دي چې افغان ولس سره ټوټه ټوټه کړي، ځینې نوماندانو د پردیو په دې لوبه کې د هغوی په ګټه په ډېره سپین سترګۍ داسې ناوله هڅې وکړې چې کېدای شي ددې بدو اثر به تر ډېره ددې ملت پر زخمونو مالګې دوړوي.

افغان مسلمان ولس چې تر هرڅه وړاندې ورته اسلام خوږ دی او د خپل هېواد ملي وحدت یې د ژوند او مرګ مسئله ده، نن سبا د دې دواړو اړخونو د نوماندانو او یاهم دهغوی د کمپاینرانو له لوري سمتي او ژبنۍ نارې اوچتېږي او د خپلو لنډ مهاله ګټو لپاره د ټولو هېوادوالو همیشنۍ ګټې له ګواښ سره مخ کوي.

دا چې په انتخاباتو کې درغلۍ شوي دي او که نه دي شوي، دا ددې سیاسي لوبې یو اړخ دی، چې کېدای شي د نوماندانو په جوړ جاړي او دنورو په منځکړیتوب پای ته ورسېږي، خو هغه د ملت وېشنۍ هڅې چې د ځینو له لوري د خپلو شخصي- ګټو لپاره تر سره کېږي، کېدای شي ددې علاج په لنډه موده کې ډېر ګران کار شي.

نو په لومړي سر کې د جمهوري ریاست له دواړو محترمو نوماندانو د ملت جدي غوښتنه داده چې له خپلو کمپاینرانو په جدي توګه غوښتنه وکړي چې نور دې دملت ترمنځ د ژبې، سمت، او قوم پر بنسټ د بېلوالي هڅې نه کوي او هغه کسان چې په دې لوبه کې ککړ دي، هغوی هم باید له خپلو لیکو څخه وباسي او په ډاګه دې اعلان وکړي چې داکسان ددوی نماینده ګي نه کوي.

همدا راز حکومت هم باید ددې مسئلې دحل لپاره جدي ګامونه اوچت کړي او هغه ډلې او رسنۍ چې د ملت وېشنې په دې لوبه کې لوبېږي، باید هغوی له دې کاره را وګرځول شي او یاهم د هغوی فعالیتونه بند کړي.

بلخوا د افغانستان مسلمان ملت باید په دې وپوهېږي چې امریکا او نور هېوادونه د افغان ولس تقسیم ته لیواله دي او هېڅکله هم ګاونډیان او غربیان مونږ ته زمونږ له خپلو هېوادوالو نږدې او مخلص نه دي او که هرڅوک هم د ملت وېشنۍ په دې لوبه کې راګیر دی، په دې باید وپوهېږي چې لومړی دالله جل جلاله پروړاندې مسؤول دی او بیا به داملت هم داسې کسان هېڅکله ونه بښي او راتلونکی تاریخ او نسلونه به دوی دملت د غدرانو او وېشونکو په نامه یاد کړي.

په ځوانانو کې د بېکارۍ کچې لوړ والی، ستونزې او اندېښنې !

اصلاح رسنیز گروپ، نعمت الله عزیزي

د درېیمې نړۍ په وروسته پاتې هېوادونو لکه افغانستان کې یوه لویه ټولنیزه ستونزه چې دغه هېوادونه ترهرچا ډېر لاس اوگریوان دي او د بېکارۍ کچه پکې ډېره لوړه ده، اوپه ځانگړي ډول دا بېکاري په هغه ځوانانو کې ډېره ده چې تر خپلې کچې یې لوړې زده کړې هم کړې دي .

دا چې دا ستونزه له کومه ځایه سرچینه اخلي، لاملونه یې کوم دي او دحل لارې یې څه دي، پدې اړه مود څو تنو ځوانانو پر نظریاتو سربېره د کار او ټولنیزو چارو وزارت لـه ویانـد سره خبرې کړې او دا موضوع مو ترخپله وسه څېړلې ده.

د حقوقواوسیاسي علومو پوهنځي فارغ، امان الله یو له هغه ځوانانوڅخه دی چې د لـوړو زده کـړوسره سره له بېکارۍ سره لاس اوگرېوان دی، نومـوړی پـدې انـد دی چې پـه دولتـي اداروکـې دفسـادلوړه کچه، روابطوته په ضوابطو لومړیتوب ورکول، دکاري وړتیاوو په نظرکې نه نېول دځوانانودبېکارۍ لوی لاملونه دي.

" یاسین زیار" چې په ژورنالیزم برخه کې یـې زده کـړې کـړې دي ددی پوښـتنې پـه ځـواب کـې چـې دځوانانودوزگارتیـا لـوی لاملونـه څـه دي؟وایي چې په افغانسـتان کـې دځوانـانو د وزگارتیـا پـه ځـانگړی توگه دلوړوزده کړولرونکوځوانانود وزگارتیا لوی لامل په اداروکې په لوړه کچه فساد، دپانگونې پڅ بهیرچې په زیاتېـدوسره یـې وزگـاري کمېږي، په دې وروستیو کې دهېواد ناڅرگند اقتصادي او سیاسي حالت چې کمپنۍ اوشرکتونه نه غـواړي څـوک جـذب کـړي او پـه خواشینۍ سره باید ووایم چې پدې وروستیوکې سوداگراو پانگه وال دخپلوپانگو په ویستو بوخت دي.

محمدحمیـدالهام چـې داقتصـادپه برخـه کـې یـې زده کـړې لـري، دهمـــدې پوښـــتنې پـــه ځـــواب کـــې بیـــاوایي، چـــې دځوانانودبېکـــارۍ لاملونـــه خـــودېږدي خودشـــته کـــاري وړتیاووڅخه گټه نه اخیستل، خپله دځوانـانو دزده کـړې د کچې ټېټوالی اود ټکنالوژۍ څخه بې خبري اودهغه څخه گټه نه اخیستل دبېکارۍ لوی لاملونه دي.

امان الله ددې پوښتنې په ځواب کې چې هغـه ځوانـان چـې د خپـل مسـلک پـه برخـه کـې ورتـه د کارنـه پیداکېدولـه املـه پـه نوروبرخوکې کارکوي دڅه ډول ستونزوسره مخ کېږي وویـل: لـومړی خپله د ځوانانوسره په خپل مسلک کې دکارکولو د ارادې نـه شـتون هغه ستونزه ده، چې موږټـول ځوانـان ورسره مـخ یـوو؛ اوداقتصـادي ستونزوڅخه دتېښتې لپاره په نوروبرخوکې کارکولوته زړه ښه کول چې طبیعي خبره ده چې گڼې ستونزې زېږوي.دمثال په توگه دعمل په ډگرکې دپرمختگ نه کول چې زماپه اند لویه ستونزه ده.

یاسین زیاربیا پدې هکله وایي، چې زما په اند هغه کسان چې په خپل مسلک کې کار نه بلکې په نورو برخو کې کـارکوي لـه گڼو ستونزوسره مـخ کېـدای شي، د کارپـه ډگـر کـې کمـزورۍ اوډېرپـه قـراره پرمختگ اوتر مسلکي شخص جوړېدوپورې ډېروخت ته اړتیا لري او داهغـه څـه دي چې دبېلگـې پـه توگه یې یادولای شو.

حمیدالهام دهمدې پوښتنې په ځواب کې بیا داسې نظر لري چې طبیعي ده چې په کومه برخـه کـې چا زده کړې نه وي کړې، اوکارکوي نود گڼوستونزوسره به مـخ وي، د مثـال پـه توگـه کارونـه بـه ښـه پرمخ نه ځي اوپه هغه ډول چې باید کاروکړي، کاربه نشې ترسره کولای.

همدارنگه امان الله ددې پوښتنې په ځواب کې چې په لوړو زده کړوسمبال ځوانانوپـه مـنځ کـې د بېکـارۍ د ستونزې دله منځه وړلولپاره څه کول پکاردي؟ وایي:زما په شخصي نظرکه په بېلابېلوبرخوکې فـابریکې جـوړې شي، دمعادنوپه برخه کې پانگونه وشي، په دولتي اداروکې فساد، قـومي، ژبنـي اوسـمتي تعصـوبونه لـه منځـه یوړل شي، کاري وړتیاووته په روابطولومړیتوب ورکړل شي د ډېرو ځوانانوستونزې به حل شي).

یاسین زیارهم ورته نظر لري اوداسې وایي: دوزگاري دکچې راټیټولولپاره پـه هېـواد کـې سیاسـي او اقتصـادي ثبات رامنځ ته کول ترڅو پانگوال پانگونه وکړي، د پانگوالو دامنیت خوندې کول، ددولتـي ادارو څخـه فسـاد

ورکول چې ټول ملت ترې ځورېږي، او په ټولیزډول دمسلکې کارګرانو روزل ترڅو په هره برخه کې دبهرنیوکارګرو پرځای زموږخپل هېوادوال وګومارل شي، لدې ستونزې څخه د خلاصون لارې کېدای شي.

خوحمیدالهام بیا پدې اړه دا نظر لري چې ددې ستونزې دحل لپاره باید یوه خپلواکه اداره جوړه شي؛ ترڅودبېکارۍ سره مبارزه وکړي اوخپله دځوانانوکاري وړتیاوې باید لوړې شي؛ اودپوهنتونونودرسي نصاب باید په داسې ډول جوړشي چې د نوي عصردستونزوځواب ویونکی وي.

بل خواته دځوانانو دا ستونزه او دهغې د لاملونو په اړه مود څو تنو ځوانانو نظریات دکار او ټولنیزو چارو وزارت له ویاند علي افتخاري سره هم شریک کړل، نوموړي ددې پوښتنې په ځواب کې چې په هېواد کې دبېکارۍ په ځانګړي ډول دلوړوزده کړو لرونکوځوانانو دبېکارۍ لوی لاملونه څه دي؟ پدې نظر دې چې په افغانستان کې دبېکارۍ لاملونه ډېرزیات دي؛ تېروناخوالوپه خواشېنۍ سره اقتصادي بنسټونه له منځه یوړل، چې په دې سره کاري فرصتونه اوشغلونه هم کم شول اولکه څنګه چې افغانستان یو کرهنیز اوپه کرهنې ولاړهېواد دی نود وروستېو کلونوچ کالیوهم پدې اړه خپلې ناوړه اغېزې درلودې، همدا رنګه د زېږېدنې د کچې لوړوالی، او نا امنۍ هغه څه دي چې په هېواد کې یې بېکاري رامنځته کړې ده.

علي افتخاري دهغه ځوانانو د وزګارتیا د لاملونو په اړه چې په یوه څانګه کې زده کړې هم لري وایي چې مخکې یوداسې سیستم شتون درلود چې کوم ځوانان چې له پوهنتونونواوانستیتونوڅخه فارغېدل د کاراوټولنیزوچارولوه وزارت سره به ثبت اوراجسترکېدل اودایوالزامي کارؤ.

افتخاري زیاتوي چې :((اوس له نېکه مرغه ووایم اوکه له بده مرغه داداري اصلاحاتو داداري شتون دغه فرصت ددې وزارت څخه اخیستی اوموږنشو کولای په الزامي ډول فارغین ثبت اوراجسترکړو.))

هغه پدې اړه یوه بله ستونزه دا ګڼي چې په پوهنتونونوکې دمارکیټ دارتیاووپر بنسټ نه، بلکې د نمرواوامکاناتودلرلوپراساس ځوانان جذبېږي؛ نوکله چې دمارکیټ اړتیا په نظر کې ونه نیول شي طبیعي خبره ده چې ستونزې منځ ته راوړي.

نوموړی د خپل نظر د تشریح په اړه وایي :((دبیلګې په توګه مارکیټ په یوکال کې دکرهنې په برخه کې سلوتنو فارغینوته اړتیالري، خودکرهنې په پوهنځي کې څلورسوه تنه جذبېږي؛چې له څلوروسوه څخه به درې سوه بېکاره پاتې کېږي.))

د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویاند زیاتوي : موږتېرکال دکار، پوهنې اولوړوزده کړو وزارتونوترمنځ په یوه غونډه کې چې دجمهوري ریاست دحکم په اساس جوړه شوې وه ، یووړاندیزدرلود چې زده کونکي باید دکاردمارکیټ دارتیا په اساس جذب شي؛ چې په دې سره به دبېکارۍ کچه ټیټه شي اودزده کړوبهیربه تخصصي شي اوهم به هغه کسان چې په یوه برخه کې یې زده کړې کړې دي خپلو زده کړوته دوام ورکړي اوپه هماغه برخه کې به دکارکولوزمینه ورته برابرېږي.

خونوموړي څرګنده نکړه چې دا طرحه ولې عملي نه شوه او د نه عملي کېدو پړه د کوم اړخ په غاړه ده؟

ښاغلی افتخاري ددې پوښتنې په ځواب کې چې دتېروکلوپه پرتله دبېکارۍ کچه ټیټه اوکه لوړه شوې ده؟ وایي چې: دتېروکلوپه پرتله د بېکارۍ کچه ټیټه شوې، خوموږاوس هم اندیښمن یو.

خو ددې ترڅنګ نوموړی دا هم وایي چې پدې اړه نوې سروې ګانې نه دي شوي خودهغه سروې ګانو په اساس چې دکاردنړیوال سازمان له لورې شوي دی؛په افغانستان کې لس میلیونه د کارپه شرایطوبرابرخلک شتون لري چې له هغه څخه یې څلورمیلیونه دبېکارۍ سره لاس اوګرېوان دی چې دادبېکارۍ لوړه کچه ښي.

علي افتخاري پدې هکله چې دکاراوټولنیزوچارو وزارت دبېکارۍ دکمولواوله منځه وړلولپاره کوم ګامونه پورته کړي اوپه راتلونکې کې پدې اړه څه پلانونه لري؟ وویل چې دکاراوټولنیزوچارو وزارت دکارملي پالیسي جوړه کړې ده چې په اساس یې دولتي اوخصوصي سکتوردکارپه رامنځ ته کولومکلف دي.

افتخاري زیاتوي، چې همدارنګه ددوی اړوند وزارت کار رامنځ ته کولو د زمینې برابرولولپاره دوه مهمې برنامې ترلاس لاندې نیولې دی چې لومړی: دحرفه ای زده کړو دمراکزو رامنځ ته کول دي چې پکې به کم سوادو اوبې سوادو خلکوته دمارکیټ دارتیا په اساس زده کړې ورکول کېږي.

دوهم: دکاراو ټولنیزوچارو وزارت169 شغلي ستندرونه جوړکړي چې د پوهنې وزارت سره دلاسلیک شوي هوکړې له مخې څلوېښت ستندرونه به په تعلیمي نصاب کې داخلېږ ترڅوموږحتا دمکتبونودفارغینو دبې سرنوشتې څخه مخنیوی وکړو.

ښاغلی افتخاري داهم وایي چې موږغواړوهغه ځوانان چې په کانکورکې بې نتیجې پاتې کېږي، هغوی دپوهنې وزارت په تخنیکي انستیتونوکې اوپه نورو برخوکې چې خپله دکاروزارت له خوا رامنځ ته شوي دبېلګې په توګه دهوټل داری، اوکرهنې په برخه کې زده کړې وکړي چې پدې سره به موږددې جوګه شوچې داوږد مهال لپاره ځوانانوته کارپیداکړو. پای

فضای آلوده به زهر تفرقه

و چالش های فرا راه وحدت ملی!

احمدضیاء رحیمزی

هرچند مشارکت غیر منتظره و وسیع اقشار مختلف جامعه در دور اول انتخابات ریاست جمهوری بتاریخ 16 حمل سال جاری، یک حماسه مردمی عنوان داده شد که شاید به حق تعریف مناسبی از سهم گیری مردم در پروسه انتخابات در یک کشور بحران زده و به فسادآغشته پنداشته شود، اما به نتیجه نرسیدن این انتخابات در اولین دور خود، بنا بر دلایل مختلف واز جمله طیف پراگنده ای از کاندید ها دارای برنامه ها وحامیان مشابه درجامعه، این انتخابات را در دور دوم آن بتاریخ 24 جوزا، از همان آوان وحتی پس از اعلام نتایج رسمی دور اول، رنگ وبوی قومی وسمتی داد واین موضوع هرچه بیشتر در جریان کار زار انتخاباتی دور دوم آشکار گردید.

در دوردوم انتخابات که بین دو نامزد پیشتاز از دیگران، برگزار گردید، از همان آوان واز روزی که نتایج دور اول انتخابات شکل رسمی بخود گرفت، بیشتر روی محور های قومی،سمتی وزبانی استوار بود که این رقابت ناسالم و شکننده سالمیت و وحدت ملت افغانها در جریان کار زار انتخاباتی بین دو کاندید، از طریق حامیان شان در رسانه ها و کاربران شبکه های اجتماعی چون فیس بوک وتویتر جلوه گری بیشتر و واضح تری پیدا کرد.

هرچند در جریان مبارزات انتخاباتی برای دور دوم انتخابات ریاست جمهوری همراه شدن گروه ها وبرخی سیاسیون مطرح با این دوگروه انتخاباتی که شامل اقوام مختلف ونماینده گی از سمت های مختلف جامعه افغانیرا داشتند تا حدی این امیدواری را ببار آورده بود که شاید سیاست های قومی وقوم گرایی ریشه عمیقی در کارکرد ها وفعالیت های این دو گروه رقیب انتخاباتی بروز نکند و مردم هم در دور دوم بدون توجه به ماهیت قومی وسمتی دو تیم رقیب انتخاباتی با نگریستن به برنامه و عملکرد آنان به آنها رای بدهد امامتاسفانه چنین نشد وبا وجود خوشبینی های موجود دراین راستا متاسفانه باز هم در روز رای دهی در دور دوم انتخابات زدوبند های قومی لسانی وسمتی در صفوف آنانیکه رای دادند با وضاحت نمایان بود. نه تنها این که حتی رسانه های صوتی وتصویری که از یمن دیموکراسی تحمیلی غرب وبا برنامه های مشخص در راستای مسخ اذهان عامه کشور از سالیان چندی به اینسو فعال اند نیز دامن زدن به بحث های قومی لسانی و سمتی را طبق میل خود وخواسته باداران خود دامن زدند و بر آتش آشوب های برپا شده در این راستا ماهرانه تیل پاشیدند.

هرکدام از دو تیم انتخاباتی که در دوم انتخابات ریاست جمهوری با هم به مقابله پرداختند ازحمایت این گونه رسانه ها برخوردار بودند و هر گروپی از این رسانه ها وحامیان سیاسی ومادی آنها یکدیگر را متهم به دامن زدن به این آشوب وفتنه مزخرف قوم گرایی ولسان گرایی می کردند درحالیکه هیچ یک از رسانه های مشهور دیداری وشنیداری که از قبل اتجاه وقبله شان معلوم بود از این امر مستثنی نبودند.

نه تنها رسانه های دیداری شنیداری و نوشتاری که حتی صفحات شبکه های اجتماعی چون فیس بوک و تویتر نیز در ایام این مبارزات انتخاباتی بین دو تیم پیشتاز دور اول نیز از این کار خیر عقب نماندند و عده ای زیادی از دوستانی که در این شبکه ها به فعالیت مصروف بودند به بهانه مورد انتقاد قرار دادن تیم سیاسی رقیب انتخاباتی خویش به یاوه سرایی علیه اقوام غیر از اقوام خود پرداختند.

به هرصورت با مشاهده این جریان و تصویر ناهنجاری که از وضعیت سیاسی و رقابت های انتخاباتی درکشور به عامه مردم ارایه گردید از یک جانب ضعف دستگاه اداری و رجال سیاسی کشور را به خوبی به نمایش گذاشت و از سوی دیگر هم همچو بیشترینه کشورهای اسلامی وکشورهای عقب مانده جهان سوم از راز عدم اداره درست ارگانها و ادارات مربوط به انتخابات در افغانستان به خوبی پرده برداشت.

هر چند ادعا های تقلب و دست داشتن کارمندان بلند رتبه کمیسیون انتخابات در جعل کاری های دور دوم انتخابات ریاست جمهوری که از جانب یک گروپ انتخاباتی امروزه هوا داده می شوند، بیشتر برای سرکوب تیم رقیب انتخاباتی شان است، ولی برعلاوه بر این ادعا ها وضعیت حاکم بر افغانستان کنونی وبا

توجه به آرای استعمال شده در این دور انتخابات به نفع هریک از دو تن کاندید، به خوبی واضح می گردد که کدام یک از آنها در کدام ولایت ودر کدام سمت توانسته آرای بیشتری کسب کند واین موضوع بروز تمایلات سمتی، زبانی وقومی در این انتخابات را بیش از پیش روشن می سازد.

هرچند نهاد های بین المللی و جامعه جهانی با اعلام حمایت از روند برگزاری انتخابات و استعمال آرا در آن، خواستند به انتخابات برگزار شده وجهه وحیثیت قانونی ومورد قبول جامعه جهانی بدهند، اما با این همه بروز اختلافات بین کمیسیون های انتخاباتی ویکی از دو کاندید دور دوم انتخابات ریاست جمهوری که در اواخر هفته گذشته مطرح گردید و همزمان با آن اعلام حرکت های مدنی در مقابل عملکرد کمیسیون انتخابات که تیم انتخاباتی مذکور آنرا اقدام برای جعل وتزویر کارمندان این کمیسیون به نفع تیم رقیب انتخابات می داند، از یک بحران آفرینی وتنش زایی دیگری حکایت دارد که می تواند عواقب آن برای افغانستان دربدر و ملت ستم زده مژده خوبی نداشته باشد.

هرچند رسانه ها از تلاش ها برای مصالحت بین کمیسیون های انتخاباتی وتیم انتخاباتی احتجاج کننده نیز گزارش داده اند و تحلیل های هم وجود دارد که شاید این همه حرکت های احتجاجی و مخالفت های مدنی در راستای امتیاز گیری و شامل شدن در حکومتی باشد که تیم مخالف انتخاباتی در صورت قطعی شدن احتمال برنده بودن خود در این انتخابات، تنظیم شده باشد، ولی به هر حال اگر این تحلیل و فرضیه را درست نیز بدانیم، آنچه امروز به حیث دست آورد ها وپیامد های این انتخابات برای کشور وجامعه ستم زده ما خیلی مشهود و معروف است، زنده شدن تعصبات و منافرت های قومی، زبانی وسمتی است که هر چند از سالیان درازی و به خصوص از زمان حضور نا میمون نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان به مشاهده می رسید ولی با دریغ ودرد باید گفت که تعدادی از حامیان هردو تیم انتخاباتی در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، در فضای آشفته وبحرانی کشور آنرا بیش از بیش دامن زدند وبرای کسب قدرت در انتخاباتی که به ظاهر برای تقویت پروسه دیموکراسی در کشور براه افتیده بود، از شعار های نا مشروع و گندیده سمت، زبان وقوم استفاده کردند.

بیجا نخواهد بود اگر در این گیر ودار قوم، سمت وزبان که متاسفانه به حیث سوغات نامیمون دیموکراسی غربی ودر عرصه انتخاباتی که ظاهراً برای تقویت این روند به اصطلاح دیموکراتیک یکبار دیگر دامنگیر ملت مظلوم وکشور جنگ زده ما می گردد، این موقف و نظر اصولی و راستین جمعیت اصلاح افغانستان را یاد آوری کنیم که در اثنای برگزاری دور اول انتخابات ریاست جمهوری اتخاذ نموده بود و آن اینکه در شرایط کنونی افغانستان جنگ زده هرچندبرگزاری انتخابات برای انتقال مسالمت آمیز قدرت و جلوگیری از به قدرت رسیدن بازور میله تفنگ کار نیکو وپسندیده ایست، اما کار مهم تر و دارای اولویت از چند نگاه، ادامه پروسه صلح و آشتی ملی است که باید به گونه صادقانه به پیش برده شود تا کشور وملتی که بیش از سی سال است در آتش جنگ خانمانسوز داخلی وخارجی می سوزد، به صلح وآرامش دست یابند.

در فضای کنونی که از هر سو با زهر قومیت، سمت وزبان آلوده گردیده است و در حالتی که هر یکی از کاندیدا های دور دوم انتخابات بر موقف خود مبنی بر برنده بودن تیم آنها در انتخابات و عدم پذیرش دیگران اصرار دارد، به یقین می توان گفت که نتیجه ودست آورد آن برای ملت ستم زده افغانستان چیزی بیشتری جز ادامه بحران های کنونی و حتی افزایش آن و ادامه مداخلات بیگانگان از همسایه ها گرفته تا کشورهای دور ونزدیک جهان، نخواهد بود.

پایان

در عراق چه می گذرد؟

نوشته: أحمد عبد الحافظ
ترجمه و تلخیص: عبدالخالق احسان

مدتی است که حوادث عراق را جدی پیگری می کنم؛ چون تغییر حقیقی در عراق، سیاست امریکای – صهیونستی – ایرانی را در منطقه شرق میانه و جهان اسلام تغییر می دهد؛ بخصوص با در نظر داشت حوادث مصر و سوریه که برنامه ها و تصمیم های امریکا را به بن بست و تنگنا می کشاند.

آغاز ماجرا

ماجرا از وقتی آغاز گردید که به هدر رفتن خون سنی در عراق بویژه در شش ماه اخیر افزایش یافت، عراق به خیمه سوگواری تبدیل گردید و تراژدی اهل سنت در بغداد، فلوجه، سامراء و موصل فراگیر شد و این صحنه های اسفبار در دیگر شهر های عراق مثل: صلاح الدین، نینوی، کرکوک و دیالی نیز تکرار گردید.

از نمونه های این تراژیدی می توان به امور ذیل اشاره کرد: گرفتاری های بدون اتهام و بدون دلیل، ملیشی های مسلح که خانواده ها و قبایل اهل سنت را هدف قرار می دهند، زندانی کردن و شکنجه زنان، ریزش صدها خمپاره بر خانه های اهل سنت؛ گویا که مالکی جنگ ویرانگری را ضد گروه مخالفش روی دست گرفته بود؛ این ها به علاوه کشتار مردم و سوزاندن مزرعه ها و باغ ها و مساجد می باشد!!

انتخابات پارلمانی فرقه گرایی

عراق یک ماه پیش شاهد انتخابات پارلمانی بود، گرایش فرقه گرایی و مبارزه بین هویت سنی و شیعی درین انتخابات طغیان کرده بود؛ در جریان تیرگی روابط و ستمگری و سیاست های به حاشیه اندازی که نیروهای مالکی علیه اهل سنت روی دست داشتند؛ مطالبه جدایی و تجزیه عراق و اقلیم سنی سمت غرب و شمال عراق افزایش یافت و این که ولایت انبار مرکز شهرهای غرب عراق تعیین گردد.

مطالبه اقلیم سنی

مالکی تقاضاهای انقلابیون را با سیاست حاشیه اندازی جواب داد؛ لذا مظاهره های بزرگی در اکثر مناطق عراق آغاز گردید و صدها هزار عراقی سنی در میدان های ولایات انبار، نینوی، صلاح الدین، دیالی، کرکوک و سمت غرب بغداد تجمع می نموده و خواهان اقلیم سنی بودند. استدلال اهل سنت این بود که « اقلیم عقیده، خون، آبروی اهل سنت و وحدت عراق را حفظ می کند؛ اگر اقلیم سنی اجازه داده شود ما همرای شما برای استقرار عدالت و مساوات و اساسات شهروندی همکاری می کنیم«.

سیطره انقلابیون بر برخی ولایات عراق

این تیرگی روابط بین مالکی و قبایل سنی شدت گرفت و هر کدام در کمین دیگری بودند تا این که این حادثه همه را غافلگیر کرد و حکومت عراق را و حتی سیاست اقلیمی را به لرزه انداخت؛ حادثه که درین لحظه ها سرخط اخبار و گزارش کانال های ماهوار و تحلیل های سیاسی قرار گرفته است. حادثه این بود که انقلابی های اهل سنت و برخی جنگاوران داعش بر موصل دومین شهر بزرگ بعد از بغداد، سیطره یافتند که انقلابیون را این امکان می دهد که بر بزرگترین مرکز پالایش نفت در عراق تسلط پیدا کند که این مرکز پالایش نفت روزانه 300هزار بشکه نفت تولید می نماید و این نفت بر بیشتر شهر های عراق توزیع می گردد و درین منطقه مرکز بزرگ تولید برق بغداد نیز موقعیت دارد.

این سیطره در حال گسترش است که تا حالا ولایت نینوی در شمال عراق همراه مرکز آن موصل، ولایت صلاح الدین و مرکز آن تکریت در شمال غرب عراق و ولایت انبار در غرب عراق و مرکز آن رمادی جنوب غرب اقلیم سنی تحت سیطره انقلابی ها قرار گرفته است و کسانی زیادی از لشکریان مالکی گرفتار و اسیر شده اند.

این حادثه توفنده در حالی آمد که مالکی و شیعه اش تصور نمی کردند، بخصوص مالکی که انسان متکبر و خودخواه و نفس پرستی است که این حوادث، او و لشکریانش را ناگهانی تکان داد به گونه که توازنش را در تصمیم گیری از دست داده و در یک کنفرانس مطبوعاتی از مردم عادی خواست که سلاح به دست گرفته و دولت را کمک کنند. چیزی که درین سخنان مالکی خطرناک بود، دعوت آشکار و واضحی او به شعله ور ساختن جنگ فرقه ی و داخلی می باشد.

بیانیه هیأت علماء مسلمین در عراق

از جانب دیگر و در یک گام ارزنده برای ازدیاد اعتماد به صفوف انقلابیون، هیأت علمای مسلمین در عراق بیانیه را صادر نمود که در آن انقلابیون را با تمام عناوین و مسمیاتش بخاطر تسلط بر شهر موصل شاباش گفته و بیان داشت که آن چه توقع می رفت به وقوع

پیوست که نیروهای مالکی از مقابله با انقلابیون فرار کرده و ثابت شد که خائن خائف است و ظالم نابود می شود هر چند مدت ستم گری اش طولانی شود.

هیأت علماء از تمام جوانانی که توان حمل سلاح را دارند، خواست که به صفوف انقلابیون پیوسته و مسوولیت شان را در پاکسازی سرزمین عراق از ظلم و ستم ستمکاران ادا کنند و حقوق مردم را به مجرای قانونی اش برگردانند. این بیانیه به لزوم اشتراک همگان به این شرف بزرگ تأکید کرد.

حقایق مهم

این حوادث سریع برخی حقایقی را ثابت ساخت که حقیقت وضعیت فعلی عراق را واضح می سازد، اینک به برخی حقایق اشاره می شود:

اول: آن چه امروز عراق شاهد آن است، انقلاب ملی فراگیری است که تمام جریان های جامعه عراقی در آن شریک هستند که بر ضد باور مالکی و حامیان آن آغاز گردیده است، کسانی که کشتزارها و نسل را نابود ساخته و سرزمین عراق را از فساد و ظلم پر ساخته اند.

قضیه آن طوری که رسانه ها و ماهواره های مربوط به مالکی و حکومتش شایع می کنند نیست که تنظیم دولت اسلامی در عراق و شام (داعش) موصل و دیگر شهر ها را تصرف نموده است؛ بلکه حقیقت این است که آنان انقلابیون هستند و ازتمام قبایل عراقی و از جمله داعش تشکیل شده و محور تجمع شان رهایی عراق از ظلم و ستمی است که در آن اموال دزدی شده و آبروها هتک حرمت شده اند.

دوم: این حوادث چهره واقعی مالکی و لشکرش را به نمایش گذاشت، مالکی در حالی در جمع حاضر شد که پریشان و ترسناک به نظر می رسید، این است مالکی- هالکی مجرم و لشکرش که فقط از خود شان حمایت می کنند نه از مردم و وطن شان. گزارش های رسیده نشان می دهد که ارتش و پولیس عراق در وقت فرار از موصل تمام وسایل و تجهیزات عسکری شان را ترک کرده و گریختند در حالی که جنگ سه ساعت بیشتر دوام نیافته بود. آیا ارتش فرقه ی می تواند در مقابل نیروی حق ایستادگی کند؟

سوم: مالکی از غرب فریادرسی می کرد و احساسات امریکا و ملل متحد را بر می انگیخت، من سخنانش را شنیدم و بیشتر از پنجاه مرتبه این کلمات مترادف را تکرار کرد: جنگ علیه تروریزم، گروه های تروریستی، داعش تروریست، نجات عراق از خطر تروریستان.

این ها کلمات مترادفی اند که بشار در سوریه، کودتاچی لیبی حفتر و کودتاچی مصر سیسی به زبان می آورند. گویا این چهار نفر آمده اند تا به منافع واضح امریکا در منطقه خدمت کنند؛ حتی که کلمه جنگ با تروریسم بهانه به مداخله نظامی مستقیم امریکا گردیده است.

مسابقه شخصیت امام ابو حنیفه رحمه الله در ولایت غور دایر گردید

راپور از: حسینی غوری

روز جمعه 16 جوزای سال جاری (1393) دفتر ساحوی جمعیت اصلاح در ولایت غور مسابقه زندگینامه امام ابوحنیفه رحمه الله را در استدیوم ورزشی ولایت غور برای برادران و همزمان در جمنازیوم ورزشی ولایت غور برای خواهران برگزار نمود که صدها جوان در این مسابقه شرکت نمودند.

تدویر همچو مسابقات برای رشد فکری جوانان و برای آگاهی آنان از زنده گی علماء، امامان، و دیگر بزرگان دین همه وقت در ولایات مختلف کشور دایر می گردد و نسل جوان ما از آن بهره می گیرند و با بزرگان دین آشنایی بدست می آورند.

اړیکې: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

قوت مغرب

شرق را از خود برد تقلید غرب
باید این اقوام را تنقید غرب
قوت مغرب نه از چنگ و رباب
نی ز رقص دختران بی حجاب
نی ز سحر ساحران لاله روست
نی ز عریان ساق و نی از قطع موست
محکمی او را نه از لادینی است
نی فروغش از خط لاتینی است
قوت افرنگ از علم و فن است
از همین آتش چراغش روشن است
حکمت از قطع و برید جاده نیست
مانع علم و هنر عمامه نیست
علم و فن داری جوان شوخ و شنگ
مغز می‌باید نه ملبوس فرنگ
فکر چالاکی اگر داری بس است
طبع دراکی اگر داری بس است
گر کسی شبها خورد دود چراغ
گیرد از علم و فن و حکمت سراغ
ترک از خود رفته و مست فرنگ
زهر نوشین خورده از دست فرنگ
زانکه تریاق عراق از دست داد
من چه گویم جز خدایش یاد یار
بنده ی افرنگ از ذوق نمود
می‌برد از غربیان رقص و سرود
نقد جان خویش دربازد به لهو
علم دشوار است ، می‌سازد به لهو
از تن آسانی بگیرد سهل را
فطرت او درپذیرد سهل را
سهل جستن را در این دیر کهن
این دلیل آنکه جان رفت از بدن

د غرب د قوت راز

(د ښاغلي پیرمحمد کاروان لخوا د علامه اقبال د شعر ژباړه)

شرق چې په تقلید کې سر تر پایه شو پناه د غرب
خپله یې پر ځان کړي دا هېڅ نه ده گناه د غرب
زور د مغرب چنگ نه دی، گیتار نه دی رباب نه دی
هم د لوڅو لوڅو جینکو د گډا تاب نه دی
نه د غاټول مخیو دی د کوډو د فتنو اثر
نه د لوڅ پونډیو دپستو لنډو ویښتو اثر
غرب چې دا قوت لري سبب یې بې دیني نه ده
دغه پلوشه گوره له خط لاتیني نه ده
زور د غرب قوت د غرب له علم دی له فنه دی
بل څراغ د دوی چې دی، ددې اور له بدنه دی
علم او حکمت په تنگ پتلون په لنډ شلوار نه دی
مخه د هنر پوهې چې ونیسي دستار نه دی
شوخه شنگه ځوانه چې په علم کې یې لاس دی
داکار د دماغوبویه، نه غربي لباس دی
څوک چې هره شپه لوگی د بلې ډیوې خورینه
دی به د حکمت بورجل ته خامخا ورځینه
گوره له حیا چې لرې لرې بوډاگان دي
پټ لکه د ښځو، په سینگار نوي ځوانان دي
هیلې امیدونه یې له زړونو غورځېدلي دي
ته وا چې له میندو ځنې مړه را زېږېدلي دي
نجونې یې په خپلو خپلو زلفو بندیوانې
نه عزت نه شرم بې حیا سترگې شیطانې
عیش کوي او نوش کوي، بایللي یې دي زړونه
وروځې یې کېږې لژندې تورې یا لرونه
لوڅې سپینې لېچې یې د تېرې په نظردي
ته وا په څپو کې سپین کبان د سمندردي
داسې یو ملت چې یې ایرې وي بې سپرغیو
تور به یې سهار وي د ماښام له تروږمیو

و معلوماتي

د عبرت په نيت...

لږ تر لږه باند په ژوند کې يو ځل له زندان څخه ليدنه وکړې ترڅو د آزادۍ د نعمت قدر درته معلوم شي، په کال کې يو ځل محکمې ته ورځه ترڅو د نېک چلن په قدر پوه شې، په مياشت کې يو ځل روغتون ته ورځه تر څو د روغتيا په قدر پوه شې، په اوونۍ کې يو ځل باغ ته سر ورښکاره کوه ترڅو د هغې ښکلا قدر درته معلوم شي چې الله تعالی طبيعت ته وربښلې، په ورځ کې يو ځل کتابخانې ته ورځه تر څو د خپلې هغې پوهې په قدر پوه شې چې الله تعالی پرې قدرمن کړی يې او په پای کې دا چې هره شېبه له خپل پروردګار سره ملاقات کوه او ذکر يې په ژبه جاري ساته ترڅو په ټولو نعمتونو کې د هغه د پېرزوينې په قدر پوه شې. (له ژونده مې دا زده کړل له کتاب څخه)

ته شرمېږې، خو الله يې په ډاګه اعلانوي...

